**امارت اسلامی افغانستان**
**وزارت تحصیلات عالی**
**پوهنتون بغلان**
**معاونیت تحقیقات علمی**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د علمي څېړنو اخلاقي تګلاره

**ماده (۱):**

**سریزه**

د علمي لیکنو او هر ډول څېړنیزو آثارو د لیکلو لپاره پر نویو او ابتکاري موضوعاتو د کافي پوهې لرل اړین دي. که یو څېړونکی وغواړي چې د یوې با اعتباره علمي مجلې د منلو وړ لیکنه وړاندې کړي، نو اړ دی چې پر بنسټیزو او ارزښتمنو څېړنو تکیه وکړي. خو ځینې کسان هڅه کوي د نورو زحمتونه پرته له کومې هڅې او لګښت څخه خپل کړي او د علمي غلا (سرقت علمي) لاره خپله کړي. علمي غلا دې ته ویل کېږي چې د بل چا له اندونو، افکارو او کلمو څخه استفاده وشي پرته له دې چې د هغه اصلي سرچینه ته ادبي (Plagiarism) ارجاع ورکړل شي او یا هم د هغه له اجازې پرته وکارول شي. کله چې د لیکوال اصلي اثر ته ارجاع ورکوو (د لیکوال نوم، د مقالې نوم او د خپرېدو ځای په ګوته کول) نو په حقیقت کې یوه معتبره منبع معرفي کوو.

**ماده (۲):**

**د علمي او ادبي غلا ډولونه**

**۱- بشپړه علمي او ادبي غلا**

دا د علمي ـ ادبي غلا تر ټولو سخت او د غندنې وړ ډول دی. په دې کې څېړونکی د بل چا لیکنه یا څېړنه په بشپړ ډول اخلي او د خپل نوم لاندې یې خپروي. دغه کار د فکري او معنوي ملکیت له غلا سره برابر ګڼل کېږي.

**۲- پر سرچینې ولاړه ادبي غلا**

کیدای شي د بېلابېلو سرچینو د کارولو له امله علمي او ادبي غلا رامنځته شي. د بېلګې په توګه، کله چې څېړونکی داسې سرچینې ته اشاره وکړي، چې یا خو ناسم وي او یا هېڅ شتون ونه لري، دا یو ناسم استناد بلل

کېږي. همدارنګه، هغه مهال ادبي غلا ترسره کېږي، چې څېړونکی د ثانوي (منځګړي) منبع څخه معلومات نقل کړي، خو د اصلي سرچينې نوم د منبع په توګه ياد کړي.

**۳- د معلوماتو د بدلون پر اساس علمي او ادبي غلا**

د معلوماتو جعل او بدلون هم د علمي او ادبي غلا له مهمو بڼو څخه دي. د معلوماتو جوړول Data) Fabrication)د غير واقعي معلوماتو توليد ته ويل کېږي، او د معلوماتو جعل (Data Falsification) هغه بدلون يا حذف دی چې د غلط تصور د رامنځته کولو لپاره ترسره کېږي.

**۴- مستقيمه علمي او ادبي غلا**

مستقيمه علمي او ادبي غلا هغه وخت رامنځته کېږي چې ليکوال د بل چا متن بې له دې چې د اقتباس نښانونه وکاروي، نقل کړي او هغه د خپل متن په توګه معرفي او خپور کړي.

**۵- د خپل مخکيني کار څخه علمي غلا**

دغه ډول علمي او ادبي غلا هغه وخت رامنځته کېږي، چې ليکوال د خپلو پخوانيو خپرو شويو آثارو د پام وړ برخې پرته له دې چې يادونه ورته وکړي، وکاروي، يا هغه مقاله چې مخکې يې په يوه ژورنال کې چاپ کړې وي يا په يوه کنفرانس کې وړاندې کړې وي، هماغه په عين ډول يا د لږ بدلونونو سره بل خپرونکي يا کنفرانس ته واستوي.

**۶- د بيا ليکلو پر اساس علمي غلا - Plagiarism Paraphrasing**

دا د علمي او ادبي غلا تر ټولو عام ډول دی، چې پکې د بل چا ليکنه د جملو په ځينو لږو بدلونونو سره کارول کېږي او د نوي عنوان لاندې وړاندې کېږي.

**۷- ناسمه ليکوالي - Inaccurate Authorship**

ناسمه ليکوالي يا ناسمه خپرونه د دوه طريقو له لارې رامنځته کېدای شي:

لومړی حالت، کله چې يو کس د يو اثر په ليکلو کې مرسته وکړي، خو ورته علمي اعتبار نه ورکول کېږي.

دوهم حالت، د لومړي حالت برعکس دی: کله چې يو کس پرته له دې چې په کار کې برخه ولري، ځان ته اعتبار ترلاسه کړي. دغه ډول علمي او ادبي غلا هرچېرې چې ترسره شي د څېړنو په قوانينو کې سرغړونه بلل کېږي. همچنان، که څوک يو اثر اصلاح کړي، امکان لري چې د علمي او ادبي غلا دغه ډول ترسره کړي. په دې حالت کې سپارښتنه دا ده چې د خپرولو پر مهال د ټولو مرسته کوونکو نومونه وښودل شي، حتی که د ليکوال په لړ کې شامل نه وي، د قدرداني په توګه يې نوم ياد شي.

**۸- موزاییکي علمي او ادبي غلا - Plagiarism Mosaic**

د موزاییکي علمي او ادبي غلا پېژندل ممکن لږ ستونزمن وي، ځکه چې شخص د بل چا عبارتونه یا متن په خپلو څېړنو کې ګډ کړی وي. د کلمو بدلول، په داسې حال کې چې لا هم د سرچینې جملې کارول کېږي، هماغه علمي او ادبي غلا ده؛ لکه چې هره کلمه کاپي شوې وي او نښل شوې وي. تاسو باید معلومات د خپل نظر له مخې په نوي متن کې بیا ولیکئ او په پای کې د اصلي سرچینې نوم ته ارجاع ورکړئ.

**۹- ناوړه علمي او ادبي غلا - Plagiarism Accidental**

دغه ډول ادبي غلا که قصداً وي او که غیر قصداً، د علمي او ادبي غلا لپاره هېڅ بهانه شتون نلري او پایلې یې اکثره یو شان وي. سره له دې، کېدای شي کله ناکله د غفلت یا ناځاپي تېروتنې له امله پېښه شي، چې څېړونکی په ناځاپه ډول د علمي او ادبي غلا ښکار شي.

**<u>ماده (۳):</u>**

**څنګه مخکې له دې چې مقاله ژورنال ته واستول شي، د ورته والي سلنه یا ادبي غلا وڅېړو؟**

هڅه وکړئ چې مخکې له دې چې خپله مقاله یو ژورنال ته واستوئ، لومړی د علمي غلا څخه ډاډ ترلاسه کړئ او وروسته مقاله د چاپ لپاره واستوئ. د مقالې په څېړنه کې د علمي غلا د پېژندلو دوه لارې شته: یا د مسلکي مؤسسو او کارپوهانو مرسته واخلئ، یا د موجوده سافټویرونو او ویب‌پاڼو باور وکړئ. د باور وړ او معتبرو وسایلو له جملې څخه ځو بېلګې د لاندې ډول دي:

**د علمي غلا د پېژندلو معتبر وسایل:**

۱- Ithenticate

۲- Turnitin

۳- Write Check

۴- Grammarly

۵- Copyleaks

٦- Plagiarism Check

۷- Plagiarisma

۸- DupliChecker

۹- PlagScan

۱۰- PlagTracker

- Copy Escape۱۱
- UniCheck۱۲

**ماده (۴):**

**د علمي غلا پایلې**

که د علمي او ادبي غلا ثبوت ترلاسه شي او څرګنده وي، د اکادمیکو اصولو او معیارونو له مخې له سرغړوونکي سره جدي چلند کېږي.

**ماده (۵):**

**د علمي او څېړنیزو آثارو د لیکلو مهم ټکي.**

۱. په څېړنیزو فعالیتونو او د مرور کارونو کې د امانت اصل رعایت.
۲. د ارزښتونو په برخه کې د بې پرېتوب رعایت.
۳. د اسلامي ارزښتونو او اکادمیکو اخلاقي معیارونو رعایت.
٤. د حواله ورکولو رښتینې طریقه.
۵. د اقتباسونو (نقل قول) سمه او پر ځای کارونه.
٦. په لیکنه او وینا کې د لیکوال صداقت باید محسوس وي.
۷. کټ مټ لیکل او کاپي-پیست نه وي.
۸. د مقالې او هر بل اثر د ژباړې لپاره د لیکوال اجازه اخیستل.
۹. د اثر محتوا د اسلامي امارت د پالیسۍ خلاف نه وي.
۱۰. د رسمي او غیر رسمي ادارو د معلوماتو د کارونې لپاره په څېړنیزو مرور چارو کې د اجازې لیک اړین دی.
۱۱. د **Paraphrase** اصول رعایت شي (د متن د بیا لیکلو اصول).

**د څېړنیزو چارو اخلاقي تګلاره په ۵ مادو او ۲۲ ټکو کې ترتیب او تصدیق شوې ده.**
**د مرکزي علمي څېړنو کمیټې د ۲۲/۱۰/۱۴۴۶ نېټې غونډه تأیید کړه او په پروتوکول نمبر (۱) کې ثبت شوه.**
**د پوهنتون د علمي شورا د ۴/۱۲/۱۴۴۶ نېټې غونډه تأیید کړه او په پروتوکول نمبر (۲) کې ثبت شوه.**

**چمتو کوونکی :د بغلان پوهنتون د علمي څېړنو مرستیال**